پوهندوی آصف بهاند

# د لوږې سونامي

## شپږمه برخه

## د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي

## یوڅلوېښتمه برخه

**«... هغه درد چې زما ماشوم پرې کړېږي، زه يې هم احساسوم... دواړه ماشومان مې د مرګ له ګواښ سره مخ دي، موږ پيسي نه لرو، له نړيوالو غواړو چې له افغانانو سره مرسته وکړي، نه غواړم چې بله مور خپل ماشومان په داسې حالت کې وګوري...»**

(د افغانستان د هرات ولايت په يوه لرې پرته سيمه کې د څو بيوزلو ماشومانو مور)

د لوږې سونامي خطر افغانستان ته د کورونا له راتګ سره يو ځای احساس شو او دا هغه وخت و چې د کورنا وبا دراتګ په وجه کرنتين پيل شول، د باندې وتل بند شول او دې کار په لومړي ګام کې د هغو کورنيو ماشومان او کوچنيان وځپل چې دوی لاس او خوله وو او د هرې ورځې خواړه يې بايد په هماغې ورځې پيدا کړي وای. کله چې د لوږې دا ستونزه رامنځته شوه، ما د دوه زره شلم کال د مې مياشتې پر دريمه نېټه يوه مقاله خپره کړه، هلته ما داسې ليکلي وو:

«بيا هم له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالي ستونزه، دا ځل خبره بل ډول ده، دا ځل له ماشومانو او کوچنيانو سره د تاوتريخوالی له غير مستقيم ډول سره مخ يو، دا ځل د کورونا له ناروغی نه د يوې بلې رازېږېدلي ستونزې سره لاس ګرېوان يو، د لوږې له سونامي سره، هغه هم هغه لوږه چې تر ټولو نه مخکې زموږ د ټولنې ماشومان او کوچنيان يې د سونامي تر بريد پورې اغيزمن کړې دي. زه فکر کوم چې د لوږې سونامي به د افغانستان د ماشومانو او کوچنيانو له پاره، تر کورونا هم وژونکې وي.

دغه څو جملې مې چېرې له نظره تېرې شوې وې، چې دلته ډېرې ښې لګېږې او زه به يې راوخلم، خو دا بايد ووايم چې زما تېروتنه دا وه چې ما يې د ليکوال نوم او پته نه ده يادداشت کړې، زه به يې پرته له ژباړې کټ مټ دلته کېږدم:

**«ويروس گرسنگي روزانه هشت هزار کودک را ميکشد و واکسين آن نيز «غذا» نام دارد، که موجود است. اما شما هرگز در رسانه ها در بارهٔ آن نخواهد شنيد، ميدانيد چرا؟**

**چون گرسنگي ثروتمندان را نمی کشد.»**




لوږه د یوه هېواد ماشومان داسې هم کولای شي، لکه اوس يې چې د افغانستان ماشومان تر دې برید پورې رارسولي دي.
د افغانستان د هرات ولایت په یوه روغتون کې افغان خوارځواکی ماشوم.

په پاسني عکس کې د دې خوارځواکي ماشوم وير لړلې مور داسې وايي:

«... هغه درد چې زما ماشوم پرې کړېږي، زه يې هم احساسوم... دواړه ماشومان مې د مرګ له ګواښ سره مخ دي، مورږ پیسې نه لرو، له نړیوالو غواړو چې له افغانانو سره مرسته وکړي، نه غواړم چې بله مور خپل ماشومان په داسې حالت کې وګوري...»

په بي بي سي پښتو کې دا ویډیو رپوټ د ۲۰۲۱ ام کال د اکتوبر پر شپږویشتمه خپور شو، رپوټ نه سم سکر شل راکېږ دی چې هر څه ټوټه ـ ټوټه کوي او سوځوي يې. د رپوټ په مقدمه

کې داسې راغلي دي:

«"افغانستان د لوږې له جدي ګواښ سره مخ دی"

۴ لړم ۱۴۰۰ ـ ۲۶ اکتوبر ۲۰۲۱

له هغه راهیسې چې په اګست میاشت کې طالبانو کابل ونیو، هغه نړیوالې پیسې چې پخوا به د افغانستان اقتصاد پرې چلېده بندې شوې دي، چې له امله يې د هېواد اقتصاد د پرځېدو پر لور روان شوی دی.

همدا اوس د میلیونونو افغانانو ژوند ګواښي. ملګرو ملتونو خبرداری ورکړی چې که دې هېواد ته بیړنۍ مرستې ونه رسیږي نو ښایي میلیونه کسان مړه شي.

ښايي دا هر څه په داسې وخت کې پېښیږي چې ژمي ته ډېرې کمې ورځې پاتې دي.

زموږ همکاره یوګیتا لیمايي له فلم اخیستونکي سنجی کنګولي او پروډوسر ایموجین انډرسن سره د افغانستان له دریم لوی ښار هراته داسې رپوټ لري.

د دې رپوټ ځینې برخې ښايي درنه خوابدونکې وي.»

د رپوټ زور به هلته مالوم شي چې ترپایه ولیدل شي. ما یې ځینې برخې په لیکلي بڼه برابرې کړې دي چې دلته یې تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کوم:



د دې په زانګو کې پراته ماشوم عکس مې هم له همدې ویډیو فلم نه راغوڅ کړی دی. دا ماشوم خرڅ شوی دی.

د هرات ولایت له یوې کلیوالې سیمې نه د بي بي سي د نړیوالو چارو خبریاله یوګیتالېمایي په یو ویډیویي رپوټ کې وايي چې دغه ماشومه د کورنۍ د فقر او خوراکي توکو د نشتوالي په وجه پلورل شوې ده. مور یې په رپوټ کې وايي: د خوراک له پاره څه نه، دا نور مړه کېدل، باره مو دا خرڅه کړه. دا پلورل شوی ماشوم به یې خریدار هغه وخت له ځانه سره بیا یې چې ماشوم د ګرځېدو شي، بیه یې پنځه سوه ډالره ده چې نیمایي مبلغ اوس ورکړل شوی دی. د ماشوم مور پلار ته ویل شوي چې دا ماشومه به خپل زوی ته ودوي، خوا دا چې څه به کېږي، څوک نه پوهېږي.

خبریاله د خپل رپوټ په ترڅ کې وايي چې یو بل کس هم زموږ له ټیمه پوښتنه وکړه چې که غواړې ماشوم یې وپېرې.

دلته ناهیلیتوب او بېړنی اړتیا په ټکو کې بیانېدای نه شي...

میډیا هره ورځ په افغانستان کې د خلکو، ماشومانو او کوچنیانو د بد حالت رپوټونه خپروي:

تاند:

«نړیوال بنسټونه په یوبل پسې ګواښ کوي، چې که افغانستان ته په ډېر عاجل ډول بشري مرستې ونه لیږل شي، د له منځه تللې حکومتولۍ او میلیونونه کسانو د وزګارۍ له کبله چې دلیل یې پر افغانستان د طالبانو واکمنیدل دي، سمدستي ۳ میلیونه ماشومان له لوږې مري.»

تاند:

«بدخشان: د الجهاد ښوونځي ملازم له لوږې ومړ.»

تاند:

«خونړی ژمی، ۲۲ میلیونه افغانان د خوراکي توکیو کمښت سره مخ کیږي.»

دوچولې پښتو:

«م.م : په افغانستان کې بد وضعیت؛ ماشومان له لوږې مري.»

په افغانستان حالت تر دې بریده خراب دی، نړیوالو د مرستو له ژمنو سره ـ سره تر اوسه پورې خپلې ژمنې یا نه دي ترسره کړې او که کوم هېواد څه عمل هم کړی وي، شوې مرستې تر اوسه اړو کورنیو ته نه دي رسېدلې او د تلفاتو شمېر هره ورځ په ډېرېدو دی.

بي بي سي فارسي:

«رئیس برنامه جهانی غذا: ۲ درصد ثروت ایلان ماسک برای گرسنگان کافی است.»

«آقای بیزلی گفت: "فقط شش میلیارد دلار کافی است تا ۴۲ میلیون نفری را نجات بدهیم که اگر اکنون به دادشان نرسیم، جان خواهند باخت. خیلی پیچیده نیست."»

د لوږې سونامي د بشري ناورین تربریده ستونزې رامنځته کولای شي، حللارې یې هم په نښه شوې دي، خو د عمل په ډګر کې د ټولو پښې ګوډې دي او یو ګام هم نه اوچتېږي.